سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۵/۰۷

# پو ښتـــنـــه؟

دا نظم د هیواد پیاوړی شوقی هنرمند او د ملی احساس خاوند «بشیر میدانی» صاحب د همدی نوم لاندی کمپوز کړی، ښکلی ویډیو هم ورته تیاره کړیده، چی په یوتوب کی یی میندلی شی.

نه وم راغلی چی قاتل شمه خونکار شمه
بی ګناه خلکو ته مرګی شـمه آزار شمه

زه وم راغلی مدرسي ته چی قرآن زده کړم
خوی او خصلت د یو منلی مسلمان زده کړم
د انساني ژونـدانه لار لکه انسان زده کړم

نه وم راغلي چی د وینو تـویـه ول زده کړم
لارو کوڅو او جوماتونو کی وژل زده کړم

زه را لیږلی مور او پلار وم چی ملا جوړ شم
د ګمرا هانو لار ښونکی رهـنما جوړ شم
تورو تیارو ته یو څراغ یوه رڼا جوړ شم

نه وم راغلی چی سینه پوری می بـم وتړم
د غرونو غرونو غم د پاسه نوی غم و تړم

دی مدرسو ته چی تنکی ځوانان راځی

هغوی اُمید لری چی بیرته به انسان راځی

نه دی خبر چی په پنجو کی د شیطان راځی

له دی معصومو ماشومان قاتلان جوړوی

د تباهی د پاره لاری او پلان جوړوی

زه "کلیوال" ساده زلمی خوبی مغزو نه یمه

غریب به یم خو لاپښتون یم بی پښتو نه یمه

نوم د عزت لرم نړیٔ کی بی آبرو نه یمه

ته بی ایمانه یی له مانه هم ایمان لوټوی

جوړوی ماځنی بلا په مامی ځان لوټوی

یوه پوښتنه کول غواړم او ځواب غواړم

ځواب په لاره د الله ج د لوی کتاب غواړم

د مدرسو له مالکانو نه حساب غواړم

ولی په ما دا بی ګناه بندګان وژنی مشر؟

ولی په ما دخپل وطن مسلمان وژنی مشره؟

بیا دا جنت او حوری خنکه ګټل کیږی وایه؟

دا په سرو وینو، که په مینه را خپلیږی وایه؟

الله ج په عدل که په ظلم راضی کیږی وایه؟

ماته ځواب راکړه زه بیرته بی ځوابه نه ځم

غواړم حساب درنه همدلته بی حسابه نه ځم

جنوری ۲۰۱٤ م تورنتو ـ کاناډا